ج : درسوال اول شما جواب عرض كرديم برنامه يي داريم با سائر تنظيم ها ، رويش بحث شده واميداست كه اقدامات عملي ان زودتر آغازشود . نظر مااين است كه ازعمليات پراگنده ومتشتت اجتناب كنيم. نيروهاي خودرابه سوي اهداف عمده واساسي توجيه كنيم . بايد كابل به محاصره گرفته شود . راه هاي اكمالاتي دشمن اعم از هوائي وزميني قطع شود . حصارامنيتي وكمربند امنيتي كابل، بايد شكستانده شود . وبه اردوباردیگري موقع داده شود تاباامجاهدين بپيوند ند . مابايد افسران اردو رامطمئن بسازيم كه باانضمام شان مجاهدين آنهارابه آغوش بازمي پذيرند ،ازآنها انتقام نميكشند، مطابق بااعلان عفو عمومي با آنها عمل مي كنند. اگرما اردورا ازاين ناحيه مطمئن بسازيم ورول اساسي راهم درصفوف رژيم كابل خودمجاهدين بعهده بگيرند واردو رول ضمني وثانوي راداشته باشد ،ما آنرا ترجيح ميدهيم . به اين شكل ممكن است رژيم كابل به آساني سقوط كند .

س : براي اينكه ملت به وحدت شما مطمئن شود،ايجاب مي نمايد كه اقدامات درزمينه صورت بگيرد،به نظرشما راه هاي عملي آن چيست ؟

ج : به خاطراينكه مامات رامطمئن بسازيم كه اين اتحادبه سرنوشت ائتلاف هاي گذشته مواجه نمي شود ، بايد اعلانات ما، تصاميم ما، بااقدامات عملي پياده شود. بايد جلو درگيري هاي داخلي به شدت گرفته شود . امنيت راه هاي اكمالاتي مجاهدين گرفته شود. ادارات محلي مشترك تشكيل شود .

بايد هيئت حكم مقتدر،درمركز كميته هاي قضائي مشترك باصلاحيت طوركافي درسطح هرولسوالي وعلاقه داري داشته باشيم . تا قضاياي متنازع فيهابين مجاهدين حل وفصل گردد ونسبت به فيصله هاي اين هيئت حكم وكميته هاي قضائي درداخل هم التزام داشته باشيم . حملات مشترك ازطريق اداره يك حكومت مؤقت كه جاي حكومت نجيب را بگيرد ،بايد صورت بپذيرد .

اگرامروزويافردا رژيم كابل سقوط ميكند،اين اداره موقت ومشترك متفق عليه جاي حكومت نجيب رابگيرد .

اگر علي الاقل اين كارها رابكنيم، ميتوانيم مردم را ازناحيه بقاودوام اين اتحاد مطمئن بسازيم . درغيرآن اگر صرف توافقاتي صورت ميگيرد به روي كاغذ، بعد كنفرانس مطبوعاتي واعلانات،ولي مردم عملا چيزي راغي جبند ، به آن مطمئن نمي شوند. اگر مابتوانيم اين گام هاي عملي را هرچه زودتر وعاجل بردا ريم ، ميتوانيم مردم را از ناحيه،دوام اين اتحاد مطمئن بسازيم .

در راه وحدت

دركابل ومراكزولايات كشوراعملي نمودة رژيم مزدورودركابل سرنگون سازند .

اماپدبختانه يك تعدادمردم براي همبستگي ها وتوافقات اخيربه نظرشك و ترديدمي بينند ومي گويند كه اينگونه اتحاد ها وموافقت ها زياد صورت گرفته اماكدام نتيجه نداده است .

درا ين شكي نيست كه هروقت به هراندازه كه رهبران جهادي بخاطر ازبين بردن اختلافات شان به بحث ومذاكره نشسته اند واختلافات شانرا ازبين برده اند ،واتحاد ها ووحدت ها صورت گرفته به همان اندازه دشمنان دين خدا چه شرق است وچه غرب توطئه هاي خودرا گسترش داده و به هرقيمت كه شده مانع چنين وحدت ها شده اند .

اگر تمامي مردم افغانستان صادقانه وواقعاً مخلصانه به خاطر رضاي خداوند وبه خاطرملت زجرديده خود ازوحدت هاي مجاهدين پشتيباني وبراي آن كارمي كردند ، واين اتحاد ها را اتحاد خود مي دانستند نه براي استعمارگران موقع مداخله دراموورداخلي ما پيدا مي شد ونه مردم افغانستان به چنين بدبختي ها گرفتارمي شدند ونه هم بقاي حكومت مزدورنجيب دركابل اينقدر دوام دارمي شد

آرزوي ما ازهمه مردم ستم ديده وزجركشيده وقهرمان افغانستان اين است كه بعد ازاين كه انقلاب اسلامي مابه مرحله حساس خودرسيده وبراي پيروزي نهائي گامهاي سريع خودرا برمي دارد وثمره انقلاب به مرحله نضج رسيده ودشمنان شرقي وغربي مابه خاطربدست آوردن ثمره جهاد وقرباني يك ونيم مليون شهيد تلاشهاي پيگيرانه وبي دريغ مي نمايند ، اختلافات خودرا كنار گذاشته وقلباً باهم ديگر نزديك شوند ومخلصانه ومجدانه به خاطر وحدت مجاهدين كار كنند .

تعصبات تنظيمي ، قومي ، لساني وزادي ، كينه وعداوت ودشمني را كه مغاير بااحكام الهي است كناركذاشته باهم طوري برادرشوند كه خداورسولش به آن امر نموده . رسول الله صلي الله عليه وسلم مي فرمايد :" مسلمانان مثل اعضاي يك جسم اند اگريك عضو آن به درد آيد تمام جسم احساس درد وناآرامي مي كند " .

درمقابل برادرمسلمان خود ايثاروخودگذري ازخودنشان داده چيزي راكه خودمي پسندند براي برادر مسلمان خودنيز بپسندند كه دراين باره رسول الله صلي الله عليه وسلم مي فرمايد : " هيچ يك ازشما مسلمان كامل نمي شود تا آن چيزي راكه براي خودمي پسند دبراي برادر خوبپسندد" .

همه دريك صف مانند ديوار مستحكم درمقابل دشمنان اسلام درراه خدا جهاد كنند تا خداوند دوست شان بدارد . دراين باره خداوند متعال مي فرمايد :" به تحقيق خداوند كساني رادوست مي دارد كه درراه وي درصف واحد مانند ديوار مستحكم جهاد مي كنند" (سوره الصف آيت)

درنمازهاي پنج گانه وساير عبادات خوبه خداوند زاري وتضرع نموده براي همه مجاهدين افغانستان وسايرمسلمانان جهان وحدت ،اخوت ، الفت ، همبستگي ونصرت راطلب نمايند به خاطر اينكه الفت دهنده دلها يگانه ذات اقدس اوست وبدون وي (ج) كسي ديگر دردل كسي الفت را جاگزين كرده نمي تواند .

كنفرانس تعليمي وتربيتي

شهادت رسيدند افغانستان ويرانه به شماجوانان چشم اميد دارد .

هكذا برادرمولوي محمدشريف مدير مدرسه امام اعظم (رح) دررابطه به اسلام وتكنالوژي معلومات عالمانه ايراد نموده گفت كه مسلمانان بايد با استفاده ازنيروهاي اتمي ، تكنالوژي وبرق وغيره ، دربرابر كفار قوه بسازد وآنها را سركوب نمايند

متعاقباً تعدادي ازشاگردان آن ليسه فريك برادرنثاراحمد پارچه شعري راتحت عنوان مجاهده برادرامير محمد مقاله ، فضل الرحمن وهمراهانش ترانه اسلامي راتحت عنوان جهادته څو برادرسبحان الله شعر راتحت عنوان موږدسنگريه لوروان يو

برادرعبدالرحمن مقاله، برادرضياء الله وهمراهانش ترانه را تحت عنوان شهيد برادر معراج الدين وهمراهانش ترانه اسلامي راتحت عنوان مسلم افسران برادرسيدمصطفي مقاله رادررابطه به اوضاع آسياي ميانه ، برادر عطاء الله پارچه شعري راتحت عنوان سنگر دعقيدي ، وبرادرميرزامحمد مقا له بي را درقسمت هاي مختلف ازپروگرام به حضار ايراد نمودند كه با نعره هاي الله اكبر وسردادن شعارهاي اسلامي وضدكفري بدرقه گرديد .

سپس برادر محمدالله ناقد معاون رياست تعليم وتربيه بالنوبه ازبيانات عالمانه وارزنده شان شاگردان را مستفيد ساخته گفت : برادران ! شما لشكر دعوت هستيد بزرگترين اسلحه كه شما دردست داريد قلم وكتاب است . درقسمتي ازبيانيه گفت : بش وكورباچوف ازگرفتن شهرها توسط مجاهدين نمي ترسند ولي ازحلقات جوانان مسلمانان مي ترسند . زيرا شماجوانان مغزدشمن راخراب مي كنيد . اوگفت انقلاب فكري وتربيوي مقدم برهرانقلاب ديگر است زيرا وقتيكه تغيرات درمغزومفكوره مابيايد دران وقت مي توانيم تغيرات وانقلاب رادرجامعه خود بياوريم

برادر ساقد دررابطه پياده كردن عساكر امريكا درعربستان سعودي گفت : امريكا عساكرش را درعربستان بخاطرحمايه ازعربستان ويا پاسداري ازاسلام درعربستان نياورده است بلكه ازبه خاطر طلا سياه (نفت وپطرول) درانجا عساكر خودرا جابجا كرده است وازسوي هم امريكامي خواهد كه كشورمتجاوز اسرائيل را بربيت المقدس تحميل كند

دراخير پروگرام برادراستاد تيكمل يكي ازاستادان ورزيده آن ليسه شاگردان راباردیگر متوجه مسئوليت هاي شان نموده كنفرانس با دعائيه بي درحوالي ساعت ۱۲ ظهر خاتمه پذيرفت

نگاهي

اين بود اصول رهنماي نظام اسلامي ولي قرآن احكام جزئي نيز داده است كه بادوره عبوري ارتباط مي گيرد، مثلاً صدقه ، خيرات ، وراثت ، قرض حسنه وغيره . علاوه ازين مصارف بدون ضرورت يابيش ازضرورت نيزمنع شده است .

راجع به رسول الله (ص) رواياتي درباره اين نوع حوادث دراحاديث موجود است كه براي رسول الله (ص) چيزي مي آمد قبل ازشب انرا بمصرف عامه مي رساند حتي كه قبل ازلحظه رحلت چند ديناري كه درخانه داشت آنرا به مصرف رساند .

همچنان رسول الله (ص) مي فرمايد كه جمعيت انبيا كسي را وارث نميگذارد يعني چيزي كه نزدشان موجود مي باشد آنرا بمصرف عامه مي رساند وملكيت شخصي نميداشته باشند .

برادرحكمتيار ازسنگر هاي

وازطرف ديگر اكمالات واخذ مواضع مستحكم درچهار اطراف شهركابل ازاسباب تعطل حمله به شهركابل بشمار ميرفت لله الحمد اين پلان نزديك به تطبيق است بخاطرهمين منظور برادرحكمتيار امرحزب اسلامي را درپشاور به غندفتح ترك نمودند تا بتوانند از نزديك سنگرهاي مجاهدين شهادت شعاررا معاينه كنند .

برادرحكمتيار روزشنبه ۱۳ ر۸ر ۱۳۶۹ غندفتح رابصوب ولسوالي اذره ولايت لوگر ترك گفتند حوالي ساعت ۱۲ ظهرموزخه فوق درقرارگاه احد كه قرارگاه مركزي جبهه ولسوالي اذره است رسيدند

اين جبهه در منطقه واقع است كه بنام ژرندي ناوي يادمي شود .

برادرحكمتيار درحالي بين مركزجهادي عودت نمودند كه ازطرف مجاهدين ومنسوبين قرارگاه متذكره فوق بدرقه شدند . ايشان درمركز اين قرارگاه جسد طياره سقوط داده شده دشمن رامعاينه كردند كه چندروز قبل درمنطقه غرنيلگره ولسوالي اذره توسط سلاح ها ي دافع هوامجاهدين طعمه حريق گرديده بود .

اين طياره كه بمنظور بمباري بالاي مردم مسلمان ولسوالي اذره آمده بود بفضل خداوند نتوانست به هدف شوم خويش نايل گردد عبدالقدير نام " صمور" كه پيلوت اين طياره بود ازچوكي فنري خويش استفاده كرده قبل ازآنكه طياره به زمين سقوط كند بزمين افتيد بعدازيا درآورده شد بتكميل شيشه كوف وغيره سامان الات بدست مجاهدين افتيد .

ولسوالي اذره داراي ۱۷ گروپ يك جبهه يك قرارگاه فرعي بوده مسئوليت عمومي اين جبهات را برادرخوان ومجاهد ما انجنير عبدالهاشم بعهده دارد ومجاهدين بعدازنان چاشت نماز ظهر رادرين قرارگاه بدرگاه ذوالجلال اداءنمود ند .

حركت بطرف قرارگاه دوم حزب درمنطقه كه قومنداني آنرا برادرورجان داشت صورت گرفت بعدازيكساعت سفرباموتربه مركزاين قرارگاه رسيدند .

اطاقيكه جهت رهايش برادرحكمتيار انتخاب گرديده بود دريك نقطه بلند كوه بود اين قرارگاه داراي چند اطاق رهايشي وديپوي سلاح ومهمات كه مانند صوف دركوه حفر گرديده بود .

بعدازنمازصبح برادران همه تياري به بالاشدن به قله كوه كردند تا ازنزديك ببينند سنگرهاي مجاهدين دركدام موقعيت قراردارد .

الي ساعت يازده نيم قبل ازظهر بردامنه هاي پايين وبلند كوه سرازيرشديم يك برادريكه توانست ازطرف كمتر ازدوساعت خودرا به قله كوه برساند مستحق جايزه شد

برادرحكمتيار براي برادرمجاهد فوق الذكر يك قاب ساعت دست خويش را تحفه داد .

بعدازديدار ازنقاط سنگرهاي قرارگاه متذكره دوباره به مركز اين قرارگاه تشريف آوردند .

برادران تياري حركت بطرف غند فتح را گرفتند برادرحكمتيار بعداز اداي نماز عصر باچند تن ازموسفيدان، قومندانان منطقه ملاقات كرده بعدازملاقات حركت آغازشد ساعت (۸) شب به مقرغند فتح عودت نمودند .

دشهید زاهد " ابراهیمي " دفاتحي په مراسموکي دورور حکمتیار دوینامتن

له کست په بلي کونکي عبدالهادي سیاري

ورور حکمتیار دروان کال دمیزان دمیاشتي په (۲۳) نیټه دشهید قوماندان زاهد ابراهیمي دفاتحي په مراسموکي وویل :

موږ له ټولو اسلامي دلو سره یووالي ته تیار یو او هغو ته د وروري لاس ورکوو اوس په نورو پوري مربوط ده چي دا دوروري لاس مني که په مخ څپېړه راکوي .

ورور حکمتیار خپله وینا دقرآن عظیم الشان دځینو آیتونو په تلاوت پیل او له حمد اوثنا څخه وروسته داسي وویل :

زما ورونو ! الله (ج) په دي مبارکوآیاتونو کي فرمایي چي واقعي مومنان هغه څوك دي چي په الله او دهغه په رسول یي ایمان راوړ بیایي شك ونه کړ اودخداي (ج) په لاره کي یي په خپل مال اونفس جهاد وکړ همدا دوي ریښتني اوصادقان دي یعني په ایمان کي دصدق اوریښتني توب علامه داده چي انسان دخپل مال اونفس په قیمت دخداي (ج) په لاره کي جهاد وکړي . یوازي دایمان ادعا کفایت نه کوي او تر څو چي انسان دخداي (ج) په لاره کي دخپل مال اونفس په قیمت جهاد ونکړي اوداثبوت وړاندي نکړي نوهغه په ایمان کي دصادقو اوریښتنو په لست کي نه شمول کیږي اودا دالله (ج) سنت دي چي پرمسلمانانو به خامخا داسي حالت راولي چي هلته اسلام له دوي نه دخپل مال اونفس په قیمت دجهاد غوښتنه کوي ، چاچي په دغسي وخت کي داسلام لپاره ملا وتړله او خپل مال ،سر او ویني یي دخداي (ج) په لاره کي وقف کړي هغه په خپل ایمان کي ریښتني اوصادق وي خوچي چا په دغسي حالت کي جهاد ته ملاونه تړله دغي په هکله پیغمبر علیه السلام فرمایي چي له چا سره چي دجهاد اراده نه وي اوکه دجهاد موقع راورسیدله هغه په جهاد کي عملاً برخه وانخیستله اوپه همدي حالت کي مړ شو ، هغه په یوي شعبي دنفاق کي مړشوي یعني د هغه مرگ دیو منافق مرگ دي اوپه بل مبارك آیت کي خداي (ج) فرمایي

ایا گمان مو کړي چي جنت ته به داخل شي حال داچي په تاسوهغه حالت ندي راغلي په کوم کي چي به خداي (ج) ستاسومجاهدین څرگند اومعلوم کړي او هغه چي صبر لري دستونځي اوکړاوونو سره مخامخ کیږي څو صابراوشکیبا دي حوصله له لاس نه ورکوي مایوس کیږي نه داسده په نسبت داره اومطمئن دي او ټولي ستونځي وکړاوونه په صبرسره زغمي .

پس الله (ج) غواړي چي دخپلي لاري مجاهدین او دابتلا ښاتو په وړاندي صابرکسان سره بیل کړي ترڅو چي دا کار نوي شوي نوجنت ته دداخلیدلو گمان مه کوي .

ورونو ! جهاد په مونږ فرض دي دخداي (ج) درضا حصول ،جنت ته د داخلیدو ،په دنیا کي دعزت دلاس ته راوړواودغلامي اواسارت نه دخلاصون لاره اوبده ده . په همدي خاطرمونږ دخداي(ج) په لاره کي دجهاد لپاره ملاتړلي خوشبخت هغه دي چي ژوندي دمجاهد دي اومرگ یي دشهید . چي خپل خپلوان اوهمسنگران یي په شهادت رسیدلي دي په وړاندي صبر کوي او دخداي (ج) په فیصلي راضي دي ،مقدراتو ته تسلیم دي مایوس او نا امیده نه دي .

الحمد تاسو ولیدل چي زمونږ دشهید ورور زاهد ابراهیمي ووروداکتر صاحب فضل محمد ددي شهادت په وجه له خداي (ج) نه ممنون دي ، هغه دخداي (ج) په لاره کي په شهادت ورسید او نه تعهد کوي چي نه به دااددي کورني لومړني شهید وي او نه وروستي .

مونږ دغسي کورنیوته ضرورت لرو دایمان تقاضاهمداده څوك چي په خداي (ج) ایمان لري ، په آخرت یي باوردي ،په جنت یي یقین دي په دي عقیده لري چي مرگ په خپل وخت راځي نیله یي نه بدلیږي ځاي یي نه بدلیږي دهغه په سیما او څېره کي همدغسي سکون اواطمینان گوري ، په سختو شیبوکي داضطرار ،پریشاني ،یاس او په ناامیدي په بیرسخت حالت کي به هم نه وگوري چي هغه دایه اومطمئن دي له سیمانه یي دسکون او اطمینان دارڅرگند دي ایمان انسان ته همدغه داړ اواطمینان ورکوي او دمسلمانانو فتح په همدغه داړ ، سکون اواطمینان پوري مربوط ده .

کوم آیت چي دلته داوور تلاوت کړ دپیغمبر (ع) دهغه قصي حکایت کوي چي هغه دمکي نه هجرت ته مجبور شوي وو هغه د دوو کسانو څخه یودي ،خپل سمت او مسیر بدلوي دشمال په ځاي جنوب طرف ته خوځیږي اوپه یوه دره کي یوه غارته پناه وړي دښمن یي تعقیبوي ترڅو چي دغارخولي ته رسیږي اوملگري یي حضرت ابوبکرصدیق (رض) ډیر مشوش دي چي که دښمنان خپلو پښوته وگوري مونږ به وویني خویه همدغسي حالت کي چي دښمنانو نوري له څمکي ایښي او دپیغمبر(ص) دقتل فیصله یي کړي دغارخولي ته رسیدلي اوآخري ملگري هم مشوش دي ، تاسو وگوري چي پیغمبر (ص) څه ځوابورکوي

غمجن کیږه مه یقیناً چي خداي (ج) زمونږ سره دي .

گوري چي پر دښمن غلبه ،فتح اونصرت اودغیبي لښکرو راتگ سکون ،داړ اواطمینان چي د الله(ج) له طرفه نازلیږي دا ټول دهغه اطمینان نتیجه ده چي پیغمبر(ص) په هغه حالت کي څرگند کړي کله چي هغه وویل :

غمجن کیږه مه الله (ج) له مونږ سره دي ، ددغه په وجه الله (ج) خپله فیصله نازله کړه او هغه لښکري یي دهغه مرستي ته راولیږلي چي تاسو نه لیده اودکافرانو کلمه یي ښکوره کړه .

دغه مطلب ته قرآن عظیم الشان په یوبل آیت کي دحضرت موسي (ع) په داستان کي اشاره کړي هغه هم ددي حالت سره مخامخ شوي ، په هجرت مجبور شوي او بني اسرائیلوته یي اعلانکړي چي په فلاني شپه به حرکت کوي هغه حرکت کوي په نیمایي لاره کي په بحرحائل گرځي له شانه دفرعون لښکري رارسیږي اودهغه ټول ملگري مضطرب اوپریشانه دي دهغه ماحول احاطه کوي او وایي چي موږ وتولي شووایي دادي دښمن راورسید .

ولي په همدغسي وخت کي موسي (ع) فرمایي : داسي نه ده چي تاسو گمان کوي چي موږ نور دستگیرشولو ، یقیناً چي زما رب ماسره دي هغه به ماته دنجات لارښئي هغه به ماته هدایت کوي اودهمدغه سکون اواطمینان او دداړ دالهام په وجه الله (ج) موسي (ع) ته فرمایي بحر په خپله عصا ووهه نو بحرتوتي شو په هغه کي لار پرانیستله شوه .

کله چي موسي (ع) داړ اواطمینان څرگند کړ دخداي (ج) په مرستي اوکمك باندي مطمئن او دادوشو نو الله (ج) ددي نه پس ددي داړ دیوي نتیجي په حیث هغه ته وحي وکړه چي اوس نه په عصا بحر ووهه بحرتوتي شو او هغو ته لاره پرانیستلي شوه ، پس دا دستونزو اوکړاوونو په وخت کي صبر اوشکیبایي ،داضطراب او ویرې په حالت کي اطمینان اوداړ دا دایمان علامه ده له خداي (ج) نه پرته له بل چا ویره نه درلودل دا دایمان غوښتنه اوتقاضاده، څکه انسان دالله (ج) په اراده دنیا ته راغلي دهغه پراراده به له دنیا نه دروسي دمرگ اوژوند اختیارالله (ج) په څمکه کي هیچا ته نه دي سپارلي ددي فیصله خداي (ج) صادروي دمرگ او ژوند په باب زمونږ تصور همدادي چي دمرگ اوژوند فیصله خداي (ج) کوي څوك چي په دي کي شك وکړي دهغه ایمان په خطرکي لویدلي خپل مرگ به په حوادثو پوري نه مربوطوو دا بوکافرانه تصور دي قرآن عظیم الشان همدغسي فرمایي اوپه پیښو پوري به خپل مرگ نه مربوطه وي .

له چا سره چي دا ایمان وي چه خداي (ج) بي باور اوپه اجل بي یقین وي په قضا او قدریي یقین وي په آخرت بي باوروي هغه په همدغسي داړ ، اومطمئن وگوري له لویو لویو پیښو سره مخامخ شوي وي ولي داده اومطمئن دي .

موږ له خداي (ج) څخه ممنون یو چي اوس یي زمونږ قوم ته دغسي شخصیتونه ورکړي چي دجهاد په سنگرونوکي رول ښوي او له هغه نه داسي لوي لوي قهرمانان جوړشوي چي دامت دامید ستوري ورته اوري ،زمونږ ملت یي رابورته کړ او یو لوي استعماري قوت ته یي ماتي ورکړه ، دتاریخ مسیر یي بدل کړ دیولوي وحشي مجهزي امپراطوري زوال دهغوي په لاس پیل شو ، اسلامي امت دهغوي په لاس راویښ شو نن دهر فرد امت سره دا امید دي چي انشاءالله داسلام هغه تیر مجد اوعظمت به بیا اعاده کیږي تاسو داسلامي امت دشلو کلومخکي حالت بوځل له دي اوسني وضعي سره مقایسه کړي بیا به معلوم شي زمونږ داسلامي ملکونو مشران به داسلام دنوم اخیستلو نه شرمیدل اوچا داسلام خبره نشوي کولي شل کاله دمخه چا ددي تصور نشوکولي داسلام په لاره کي جهاد داسلامي حکومت دجوړولوهڅه ،داسلامي نظام داقامي طمع اوامید درلودل ولي نن گوري چي دا دي ددنیا په گوټ گوټ کي خلك داسلامي حکومت دجوړولو نه یواځي امید اوطمع لري بلکه دهغه لپاره عملاً په جهاد لگیا دي،مسلمانه جهاد کوي په اسلامي امت کي چي کومه سیداري راپیداشوي نوي شعور ،دجهاد اراده ،داسلام دتیر مجد اوعظمت دبیرته راگرځیدوامید اوطمع راپیداشوي ، دا ددغو لویو لویو قهرمانانو دجهاد او دقربانیو نتیجه ده ،له خداي (ج) ممنون اوسپاسگذار یو چي زمونږ په قوم کي یي دغسي ستر ستر شخصیتونه راپیدا کړل او ددوي په لاس دغه ستره پیښه ترسره شوه .

بیا په دي ممنون اوسپاس گذار یو چي مونږ همدغسي لوي لوي شخصیتونه له لاسه ورکړي خودکورني غړي یي ، ورونه یي ، همسنگران یي سره له دي چي اوښکي تویوي ولي داده اومطمئن دي . مزیدي قرباني ته آماده دي اوبیه نمونه یي همدا زمونږ ورور داکترصاحب فضل محمد داوروستي جمله وه چي زاهد صاحب ابراهیمي شهید نه زمونږ دکورنۍ لري شهید دي او نه به وروستي شهید وي په یو مسلمانه کورني کي باید دغه جذبه وي ،دغه عزم وي احساس وي په داسي حال کي چي دهغه لپاره دزرگونو داسي کسانو اوښکي توي شوي چي شاید هغه یي لیدلي هم نه وو له نوم او جهاد نه یي خبرشوي ددعا او مغفرت لپاره په زرگونو کسانو دهغه فاتحوکي برخه اخیستي او دهغه دپاره یي دعا کړي پس دا هم دالله(ج) یوه پیرزوینه ده.

قرآن عظیم الشان دا هم فرمایي هغه کسان چي ایمان یي راوړي اوعملونه یي صالح دي رحمان خداي (ج) به دوي لره دخلکوپه سینو اوزړونو کي مینه او محبت راپیداکوي ،داسي څوك چي هغه په شهادت رسیدلي ولي مسلمانان دهغه په نسبت خپله مینه څرگندوي دا درحمٰن خداي (ج) پیرزوینه ده، چي په څمکه کي دا رحمت مینه او محبت دهغه د وسیع رحمت یو وروکي جز دي دا څه مینه اومحبت چي تاسو په دي عالم او هستي کي گوري نو دادرحمٰن خداي (ج) دوسیع رحمت یو جز دي چي په خلکو کي یي راپیداکړي داچي تاسوگوري د زاهد ابراهیمي شهید په نسبت دا مینه اواحترام او دا اوښکي چي دهغه لپاره تویي شوي بیس دادالله(ج) یو بله ستره پیرزوینه وه پرهغه باندي او ددي وجه دهغه ایمان ،اخلاص ،جهاد ،جرئت ،صداقت او تقوی وه هغه دخپل عمر د اته دیرشوکلونوڅه دوه ویشت کلونه ددعوت اودجهاد په سنگرونوکي تیرکړي یعني هغه په اسلام کي ځوان شو دوهویشت کاله یي ددعوت اودجهاد په سنگرونوکي تیر کړل ، پیغمبر (ع) فرمایي یوله هغو کسانو چي دقیامت په ورځ به دالله (ج) دعرش ترسیوري لاندي وي (هلته چي بل سیوري به نه وي) هغه ځوان دي چي په اسلام کي ځوان شوي وي زاهدصاحب هم دعمر دوه ویشت کلونه چي خلك یي په عیشونو اوعشرت کي تیروي یعني دځواني هغه دیره خطرناکه مرحله توله دخداي (ج) په لاره کي وقف کړه لا شپارس کلن وو چي دي تحریک سره یو ځاي شو ددعوت په کارکي مصروف وو د داؤد په خلاف هغه په مسلح جهاد کي شرکت وکړ دخداي (ج) په لاره کي یي هجرت وکړ دلته وزگار کښیناست څه وخت چي فارغ وو دافارغ وخت یي هم خوشي نه دي تیرکړي په مدرسوکي مصروف و تحصیل یي کولو لکه چي قرآن عظیم الشان فرمایي چي کله فارغ شوي نوزحمت باسه پس دلته فراغت نشته پیغمبر علیه السلام ته همداحکم کیږي چي که فارغ هم شوي نو د خداي (ج) په لاره کي په رحمت کاري دا چي دنیا په ژوند کي هغه یوشیبه تیکه اوآرام نه لري څوځیږي، ایمان یي نه پریږدي چي هغه دي بي تفاوته پاتي شي او آرام دي کښیني پس دا دایمان بله علامه ده،ایمان انسان آرام نه پریږدي هغه داسي یو محرکه قوت دي چي انسان دیوي شیبي لپاره هم آرام پرایښودلو ته نه پریږدي .

هغه به همیشه خوځنده وي یه حرکت کي به وي یا ددعوت په کار کي بادخداي (ج) په عبادت کي یا به جهاد کي. زاهد صاحب دهغوورونو څخه وو دخداي (ج) سره یي چي په کومه خبره یي تعهد وو غوښتل یي چي داترسره کړي دامال ژوند نفس اودا وخت چي الله(ج) انسان ته ورکړي دا دخداي امانتونه دي دا به خداي (ج) ته حواله کوي او دخداي (ج) په لاره کي به دا وقف کوي الله (ج) دي دهغه شهادت قبول کړي اوخداي (ج) دي دهغه هغه ارمان ترسره کړي چي دهغه لپاره یي دا خپل ټول ژوند وقف کړي وو شپه او ورځ لگیا وو یه دي کي شك نشته چي هغه داغوښتل چي په افغانستان کي دغسي ورځ وگوري چي داسلام شین بیرغ اوچت وي او دمجاهدینو په لاس اسلامي حکومت قائم شوي وي ان شاءالله دا ارمان نه خداي (ج) ترسره کوي او دشهداؤ وینې نه ضایع کیږي دشهداؤ قرباني خداي (ج) نه ضایع کوي ، خداي (ج) ددي ذمه وار او ضامن دي نو دا ارمان به خداي (ج) ترسره کوي ،هغه خپل هدف ته رسیدلي هغه خپل مقصد ترلاسه کړي او دهغه روح به اوس خوشحاله وي او نوروته به هم دازیري لیږي چي په دي لاره کي نه غم شته اونه خوف .

الله (ج) دي مونږ ته توفیق راکړي چي دشهداؤ هغه ارمان ترسره کړو چي دکوم په خاطرهغوي وینې تویي شوي .

ورونو ! راځي دشهید زاهد ابراهیمي دفاتحي په دغه مراسموکي دهغه دسنگر ورونو په حیث دخداي (ج) سره تعهد وکړو چي جهاد ته به دژوند ترآخري سلگي ادامه ورکوو .

او ترڅوچي ژوندي یو ترڅوچي وینه زمونږ په رگونوکي خوځیږي دخداي(ج) په لاره کي به جهاد کوو وسله به په څمکه نه ږدو دجهاد دسنگرونو نه بهترغفو نه پورته کیږو ترڅوچي فتنه پاي ته نوي رسیدلي .

همدا راز راځي تعهد وکړوچي ددي مقصد دترسره کید ولپاره داسلامي حکومت د قائمیدو لپاره داسلام دکلمي دلوړلو لپاره به ټول یوبل ته دوروري لاس ورکوو دوحدت کوښش کي کوواختلافات به ختموو تفرقه ، بدبیني اوکرکه به ختموو اودمسلمانانو زړونه به نږدي کوو هغوي به سره یه یوصف کي منظم کوواوددي پروا به هم نه لروچي څانه مولاس اوږد کړ ،هغه مو په مخ څپېړه راکوي ،چا ته مو دیو والي بلنه ورکړه هغه درته شکنځلي کوي بد اورد وایي پس په هرصورت کي به دیووالي او وحدت کوښش کوواومونږ مامورشوي یو دهمدي لپاره چي مسلمانان به سره یوکوو.

ورونو ! ترکومه ځایه پوري چي په مونږ پوري مربوط ده حزب اسلامي ټولو نوروتنظیمونو ته یوځل بیایووالي او وحدت لاس اوږدکړي ددي لپاره چي ټول مجاهد قوتونه گډوړ دي که ستردي ، که ضعیف ، که قوي په یو مؤقت حکومت چي دنجیب حکومت دنسکوریدو نه بعد به دهغه ځاي نیسي اوپه یوي مقتدري شوري توافق وکړي دټول افغان ولس دټولو پرگنو نمایندگي کولي شي .

هغه به دملك دپاره اساسي قانون جوړوي بیا به دغه اساسي قانون سره سم زمونږ راتلونکي حکومتونه جوړیږي مونږ په دي خبره دځینو ولوسره تفاهم پیل کړي او شي نتیجي ته رسیدلي یو، موافقت نامه ترتیب شوي اوآماده دي .

زمونږ اسرار دادي چي دا کار باید په هرصورت وشي دوه وي دري وي څلور وي پنځه وي کم وي زیات وي باید مونږ دیووالي لاس ورکړو نو روته هم باید دروازه خلاصه وي د هغوي دراوستلو هم باید کوښښ وشي

ورونو ! دا ددوواوددریو تنظیمونو دګډوالي او یوځولودیووالي طرح نه ده بلکي دټولو مجاهدو قوتونو دیووالي هڅه اوکوښش دي موږ هڅه اوکوښش کوو چي دبي بي سي اوصداي امریکاخبرنگارانوته مضمون پیدا نشي دامریکا اوروس دخوشحالولو لپاره څه ونه وایي هغه زمونږ په اختلاف خوشحاله کیږي که مونږ مختلف وو سرنوشت به مو دوي ټاکي ، که په مونږ کي اختلاف اورقابتونه وو نو زمونږپه قوم کي څان ته مزدوران اونوکران په ډیره ارزانه بیه پیدا کولي شي چي دیوبل په خلاف یي استعمال کړي خو که مونږ متحد وو نوپه هغه باندي بیا دمداخلي اولاس وهلو ټولي لاري بندیږي بیا به افغان ولس خپل سرنوشت په خپله ټاکي بیابه مونږ د خپل ولس دخوښي اسلامي حکومت جوړ وو کوم چي دوي یي نه غواړي دهغوي نه سخته ویره لري ،داسلامي حکومت هغوي خپلو استعماري گټو ته تر ټولوستر خطرگڼي نن یواځي خبره چي استعمار له هغه نه ویره لري هغه دادي چي ددنیا په کوم گوټ کي دجهاد په نتیجه کي یو اسلامي حکومت قائم شي که په افغانستان کي دروسي پوځونو دماتي اوشکست نه بعد دغو زړوریا ایمانه مجاهدینو په لاس اسلامي حکومت قائم شي کوم چي ټول اسلامي امت خپل سرنوشت په هغه پسي تړل گڼي ،دا داستعمار لپاره ترټولو سترخطردي مخکي غربي استعماري ځواکونو له کمونیزم نه هم ویره اوخطر درلودله او دهغوي ترمینځ رقابت ژو دوسلي دخرڅلاودمارکیټونو دپیداکولو په سر او په دنیا کي دزیاتومستعمرو دپیداکولو په سر دهغوي ترمینځ رقابتونه وو خواوس دماسکو او واشنگټن ترمینځ دا مسابقه ختمه شوي هغوي توانیدلي چي دمذاکراتو دمیز په سرخپلي ټولي کشالي حل اوفیصل کړي .

خپل ټول منازعات حل اوفیصل کړي او دعالمي پیښي په نسبت واحد دریځ اوموقف غوره کړي

اوس هغوي یو بل ته لاس ورکړي داسلام دځپلو لپاره اوچي دوي یي دبنیادگرایي خطر گڼي داد بنیادگرائي خطراوس یواځینی خطردي او دوي بنیادگرائي له خطرنه هم داسلام د دوباره احیاً او داسلامي امت دبیداري خطر مرادگڼي لکه چي غربیان وایي که څه هم وارسا تورعملاً ختم شوي دي او له هغه نه له دي نه بعداروپانه خطرنه دي متوجه خونانو باید په خپل حال پاتي وي څکه چي دلته دبنیادگرائي خطرشته دناتوعسکري پیمان باید د بنیادگرائي خطرسره دمقابلي لپاره منحل اوختم شي .

اوس داستعمار لپاره ترټولولوي خطر همدغه دي هغوي نه غواړي چي په افغانستان کي دي اسلامي حکومت قائم شي که مونږ متحد ژو په افغانستان کي اسلامي حکومت قائمولي شو افغان ولس به دخپلي خوښي اسلامي حکومت جوړوي

خوکه اختلاف ژو په رقابتونو کي مصروف ژو دیوبل په خلاف لگیا ژو، نوروته مو تبلیغاتي حربي ورکولي او ددښمن زړه موخوشحالولو نوبیا به زمونږ سرنوشت روس او امریکا ټاکي اوپه همدي خبره به استناد کوي چي داخلك نشي کولي خپل داخلي اختلافات حل کړي ، په واحد قیادت راټول شي دملك داداري استعداد اوکفایت نه لري دحکومت دچلولو کفایت نه لري په دي خاطرمونږ مجبوريو ددنیا دمظلومو قومونو دوصي اودقیم په حیث دوي ته خپل سرنوشت وټاکو اوپه دي حالت په بي پریکړو روس او امریکا په کښیني اودافغان ولس دوصي ،قیم ،ولي اوسرپرست په حیث دهغه سرنوشت به ورته ټاکي .

انتظار مو دټولو ورونو نه همدغه دي چي له دي نه بعدراځي دادي اختلاف دخمرویه ځاي دیووالي او وحدت خمري وکړو په ځاکي هم چي دڅه ویلو استعداد دي ددي په ځاي چي خولـه اوږده داختلاف په نفع وخواځوو ، دیوبل ټکولو ، زدولو ، راځي یوځه وخت دا دوحدت په جهت کي وخوځوو خمري داتحاد کوي ،دیووالي کوي نفرت مه خوروي بد بیني اوکرکه مه خپروي دهغه په ځاي مینه ،محبت او یووالي لپاره مصروف شي ترکومه ځایه پوري چي په حزب اسلامي پوري مربوط دي .

مونږ د ټولو ولو سره د یووالي لپاره تیاریو هغوي ته دوروري لاس ورکوو

اوس په نورو پوري مربوط ده چي دا لاس قبلوي دا داخلاص او دمیني بلنه قبلوي اوکه مونږ ته په مخ څپېړه راکوي مسؤلیت دي دخداي (ج) په وړاندي دهغه په غاړه ده نه ددي لپاره چي محتاج او اړیو بلکه ددي لپاره چي دا هم شرعي مسؤلیت دي .

اوحالات دا ایجابوي چي اختلافات ختم کړو دوروري لاس یوبل ته ورکړو خود وحدت او یووالي معنی دانه دي چي هغه غیري ترخي تجربي هم عیري کوو ، راځي یو والي اوحدت خویه دغسي متینو اساساتو راولو چي افغانستان کي داسلامي حکومت تاسیس تضمین کړي شي ، مونږ ورونو ته همدا وایو ، په دي ترتیب یووالي نه شي راتلي اویونظام نشي جوړیدي چي بس اوه ولي کم او زیاتي دي کښیني هرڅوك دي دخپل کور په سر باندي بیرغ اوچت کړي یو نشریه او اعلامیه دي خپره کړي، په دي ترتیب دي دولي ادعا وکړي او وزارتونه دي هغوي ترمینځ مساویانه تقسیم شي په دي ترتیب دي حکومت جوړښې په دي ترتیب یو نظام نشي چلیدي په تاریخ کي ددي مثال نشته دا امکان نه لري چي یوملك دي په دغسي یو نظام اداره کړي شي گوري ددنیا په نورو ملکونو کي ائتلافي حکومتونه څومیاشي هم دوام نشي کولي هند ته وگوري څه حال دي پاکستان کي مووليدل چي ائتلاف حکومت دوه میاشتي هم دوام ونه کړای شویه دریمه میاشت منحل شو ،داچي وزارتونه دي په ولو مساویانه وویشلي شي په اسلام کي هم ددي لپاره مونږ څه اساس نشومونډلي زه همداوایم آیا هغه شپږکسان چي حضرت عمر(رض) معرفي کړي وو چي ددوي له مینځه یو امیر تاکل کیږي .

مگر دوي داسي نه شواي کولاي چي په دي شپږوکسانو دي وزارتونه تقسیم کړي ؟ یوبي امیر بل یي نائب امیربل یي وزیر دفاع بل یي وزیر خارجه،شپږونه احساس یوستونه ——— ورکړي اویه دي ترتیب حکومت جوړکړي نه هغوي داسي ونه کړل بلکي برخلاف دخپلو دغوشپږوکسانو له مینځ نه یي دمدیني داهل په مشوره او خوښه یوکس باصلاحیته اوشرعي امیروټاکه بیایي اختیارات هغه ته وسپارل

هغه خپل ځان ته حکومت جوړکړي بیابي ددغوشپږو کسانو نه یو هم په خپله کابینه کي نه دي شریك کړي مونږ باید دغسي وکړو داسي نشي کیدي چي په اوونتظیمونو به وزارتونه مساویانه تقسیم کیږي بیا به هرڅوك دخپل گوز اوټیر غوي کابینتي ته معرفي کوي او حکومت به جوړیږي که داسي کیداي نومونږ تجربه وکړه وموليدل چي دا مؤقت حکومت ولي ناکام شو ددي لپاره چي دهغه په څنگ کي یوه قوي شوري نه وه ددي لپاره چي هلته دقوي ،دضعیف دمؤثر او دغیرمؤثر چي ملت یي مني نه چي مني ددي فرق نه وو اومساویانه وزارتونه تقسیم شوي وو هر چا دخپلي خوښي کسان معرفي کړي ژو بیکاره وزارتونه و او هرچا کوښش کړي دي تشکیلات یي پراخ او وسیع کړي تر څوزیات شمیر خپل خپلوان ،ملگري او دوستان ،رفیقان دا ټول په هغه کي شامل کړي .

اوه زره مامورین مؤقت حکومت چي په دي دوه کاله کي یوه کار هم نه دي کړي بیکاره مامورین په کراچي دفترونوکي په دفاترکي اودپښه لکسو اوآخرین ماډل موټروسره خوچي تاسوهردفتر دوزارت ته نه وځئ نو هلته به مصروف څوك ونه گوري دمامورینو لپاره به کار پیداکوي ،داموقت حکومت ولي ناکام شو په چا اعتراض نه کوو مقصد دادي چي مونږ ددي لپاره اصولي بنیادونه او اساسات غوره نه کړل په متینو اساساتو مواستوار نه کړ او هسي لوټه اینښودل او داویونه تیریدلو کارروو دهغه په څنگ کي قوي شوري جوړه نه شوه دادي حکومت اوس کاملاً راکد دي اودهیڅ کولو توان اواستعداد هم نه لري .

ورونو ته همدغه وایو راځي دامشکل حل کړو ما تیره شپه هم دځینوورونوسره تر دوویجو پوري ددغومشکلات په سرنبحث لپاره تیر کړي او هغو ته مي همداوویل .

په ځینو منطقو کي دمجاهدینو ترمینځ برخوردونه دي ددغو برخوردونو چاره څه ده ددي وجه داده چي اوس دمجاهدینو په وړاندي صرف یوه لاره ده اوهغه داچي خپل رقیب اوحریف په زوروټکوي سنگرونه یي اشغال کړي منطقه یي فتح کړي او خپل تنظیم په زور هلته مسلط کړي په منطقي هغه خپله سیطره ټینگه کړي له دي نه پرته هغه بله لار نه لري هغه گمان کوي چي خپل حزب ئي برحق دي .

ددي حزب له لاري اسلامي حکومت راتلي شي نوري ولي په ناحقه دي نوري ولي د اسلامي حکومت دجوړیدو په وړاندي خنډ گرځي چي دده دحزب سره رقابت کوي بله لار نه گوري مگرداچي هغه وټکوي سنگرونه یي اشغال کړي منطقه یي ورنه ونیسي دمسلحانه رقابتونو نه پرته بله لارښته په دي خاطر په ځینو منطقوکي درگیري اوبرخوردونه دي اما که مونږ هغو ته روایو چي نه دلته به هغه څوك حکومت کوي چي ملت په هغه باندي اعتماد لري دملت اکثریت چي په هغه باندي اعتماد لري هغه دي حکومت کوي .

ماورونو ته همدا طرح وړاندي کړه چي راځي دوه کارونه سره بیل کړوجهاد او دمنطقي اداره داسره بیل کړو دجهاد په هکله هر تنظیم ته ددي حق حاصل وي چي خلك دعوت کړي منظم یي کړي مجهز یي کړي ددښمن په خلاف یي سوق کړي دیو تنظیم نه بل تنظیم ته مجاهدین تلل شي مشروط به دي چي هغه دي دخپل سابقه تنظیم سره تصفیه دحساب وکړي تر څو داعدم تصفیه هم باعث دجنگونوابرخوردونو نه شي ،امابه هره منطقه کي باید متفق علیه اداري جوړي شي دامنیت دتامین لپاره ،دخلکو دشخړو اومنازعاتو دحل اوفصل لپاره دتعلیم اوتربیي ،دصحي اموروا وچارولپاره باید متفق علیه اداري جوړي شي داسي هغه به دي شکل چي انتخابات دي وي دمتناسبي نمایندگي به اساس اومحلي شوري گاني دي جوړي شي دغه محلي شوري گاني دي په منطقه کي محلي اداري جوړي کړي دغه اداروته دي دمنطقي دسمبالولو او اداري ټول صلاحیت وسپارلي شي غواید په دي اداري پوري مربوط وي اوپه منطقه کي دامن تامینول ددوي کاردي صحي او اداري کارونه دا ټول په همدي پوري مربوط وي .

په دغواموروکي به تنظیمونه مداخلت نه لري چا چي په دي شوري کي اکثریت ترلاسه کړ اداره دي هغه جوړه کړي اوس چي زه دالارخلاصوم ددا تسلط په منطقه کي ختم که نه قوي یي موثر یي ملت دي مني اکثریت دتاسره دي دتاتسلط ختم نه اداره جوړه کړه ضرورت به دي نه څه وي چي بل وټکوي ختم یي کړي او په هجرت یي مجبور کړي له خپلي منطقي یي وشړي په دي اساس دجنگ اوبرخوردامکانات ختمیږي باوروکړي چي هغو وروڼوله ماسره توافق کړي اومونږ دي حدته رسیدلي یوچي بالاخره په دي باندي امضا وکړو

مونږ همدغه وایوچي یوي قوي اومقتدري شوري ته ضرورت لرو دراتلونکي اسلامي نظام لپاره باید سرله اوسه نوي مستحکم ،متین اومطمئن اساسات وضع کړو .

مووددعموري اومؤقتي مرحلي لپاره هرنوع انعطافمنارل ، ایثار او خورگذري ته تیاریو لکه چي په گذشته کي موشووروټولوته امتیازات ورکړي ټول مورنیسان دهغو نه انتخاب کړي حساس حساس پوستونه موهغوي ته ورکړي بیا هم تیاریوخودمؤقتي مرحلي لپاره مشروطه په دي چي هغوي له مونږ سره دغسي ثابت اومطمئن اساسات دراتلونکي اسلامي نظام لپاره تیوکړي .

همدا راز ورونوا ددغو شهداؤ سره په خپلو تعهداتو دوفا تقاضا داده چي مونږ ددي قضیي دختمولوا دجنگ دپاي ته رسولو اودکابل رژیم دنسکورولو لپاره خپل ټول قوتونه ددښمن په خلاف سوق کړو ماورونوسره همدا وپلي که په حکومت توافق نشوکولي، که شوري نشو جوړولي نو راځي کم له کمه یه دي خبره خوخپلومینځونوکي توافق وکړو چي خپل ټول قوتونه د یومشترك عسکري پلان په ترځ کي او دواحدي قوماندي لاندي ددښمن په خلاف سوق کړو له ناممنظمو ، منشتتو او پراگنده جگړونه لاس واخلو خپل ټول قوتونه هغه اساسي اهدافو ته توجه کړو چي دکابل رژیم نسکور شي اوچي کله دکابل رژیم نسکورشو بیا به دغه اداره چي اوس یي جوړوو د هغه ځاي نیسي که دانشي کیدي ،د همغه تنظیمونومشران دي کښیني او مؤقت حکومت دي جوړکړي چي په دي مشترك پلان کي برخه اخلي که دا نشي کیداي دقوماندانانو مشترکه شوري دي جوړه شي دکابل دښاراوخوا دجبهاتو مؤثر قوماندانان دي یوه انقلابي شوري جوړه کړي دي نه دي دملك واك وسپارلي شي دا دي یو مؤقت حکومت جوړکړي بیا دي په شپږو میاشتو کي انتخابات وشي اوقدرت دي منتخب حکومت ته وسپارلي شي مونږ له ځینو تنظیمونو سره دیو مشترك عسکري پلان په سرخبري اتري پیل کړي توافق ته رسیدلي یو اوتاسوگوري چي دکابل رژیم سخت وارخطا دي دنجیب داڅو ورځي ورروستي بیانیي به مواوریدلي وي .

چي سخت پریشانه دي او په یوه بیانیه کي هغه وایي چي ظویزوني وبنایي دفتوح دافسرانو په وړاندي زه له دي استیزنه اعلان کوم هغه کسان دي هم واوري چي ددښمنانو په لاس کي لویدلي اواشاره هم همداسي کوي مقصدیي هغه کسان دي چي څه وخت دمخه مجاهدینوسره یوځاي شوي اوهغه دي هم واوري چي دلته دي مقصدیي هغه دي چي دده په څنگ دي په فوځ کي دي په اردوکي دي په حکومت کي ده سره شریك دي چي دهغوي ټول فعالیتونه زمونږ تر نظرلاندي دي او ددي لپاره چي هغوي ووېروي چي حکومت بیدار دي متوجه دي ستاسو ملوځلو تماسونو او ارتباطاتو ته یته متوجه دي ستا سو ټول تلاشونه دهغوي تر نظرلاندي وي اودهغه په سیما کي هم داویره اوتشویش څرگندي اوله دي خبري نه هم معلومیږي چي هغه داسي وایي چي زمونږ په څنگ کي ددښمن داسي کسان شته چي دلته مصروف دي ، دهغوي لپاره دا به څومره دبي اعتمادي فضا راپیدا کوي دا هریو به ویریږي چي شاید زه هم تر نظرلاندي وم دا هراقسر چي دهغه په مخکي ناست ؤ حتماً به ورسره دا ویره وه چي شاید دهمدغه جملي څخه زه هم یم چي تر نظرلاندي دي او هغه وایي چي پهخرواروخرواروراگهونه دغرونو شاته دکابل شا او خوا کي جمع شوي اوحزب اسلامي دیوي لویي حملي اراده لري او تاسو به اوریدلي وي چي څلورورځي دمخه دکابل جنوب شرقي محاذ کي دخاك جبارطرف ته او ارغندي طرف ته غربي محاذ کي عادي ورځني عملیات ترسره شول نجیب یي فوراً په سبا په کابل کي ټول دیپلوماتان راوغوښتل ویي ویل چي دادي همغه لویه حمله چي دهغه په باب ویري شنصري کیدي پیل شوي او زه محصور شوم چي په همغه ساعت دا خبره اعلان کړم چي دا هغه عملیات نه دي دکومي نه چي تاسي ویره لري نوهغه عملیات به په خپل مناسب وخت کي پیل کیږي ،داورځني عملیات دي واقعا داعادي او ورځني عملیات دي ، مجاهدین وتوانیدلي شول چي لس پوستي دخاکجبار طرف ته ونیسي هغوي اوس په همدغسي خوف او ویره کي ژوند کوي او باور وکړي چي که زمونږ له مینځ نه زمونږ حالت هغه نه واي اواطمینان نه ورکولي او زمونږ خبره یوه واي نونجیب به دیښني په ترپاهم نشیتیده متاسفانه چي زمونږ دمینځ نه داختلاف او ځیني اظهارات هغه ته څه داړ او اطمینان ورکړ ،امریکا هم ډیره سخته وارخطا ده تاسو به گوري چي بي بي سي اوصداي امریکا څومره په شدت سره تبلیغات کوي چي دادي دحزب اسلامي او (آي ،اس ،آي)گډ پلان دي او پاکستان غواړي حزب اسلامي په کابل باندي مسلطه کړي او نورتنظیمونه تحریکوي چي ټول امکانات هغه ته ورکړ شوي دي د اوپا په سلو کي هغه ته ورکړي شوي دي اوه سوه موټره مهمات ورته ورکړي شوي دي .

او امثال ددي دنورو تنظیمونو دتحریکولو لپاره ،داختلاف دراپیدا کولو لپاره بي بي سي اوصداي امریکا سخت لگیا دي هغه هم داویره لري ،هغه نه غواړي چي قضیه دي دمجاهدینو په لاس حل شي هغه غواړي چي مجاهدین دي ضعیف وي .

ناکام دي وي ،ولس ته دي دا ثابته شي چي مجاهدین دکابل رژیم د راپرزولو نه عاجزدي اوخلك له جنگ نه ستړي شوي دتنظیمونو حیثیت او اعتبار ختم شوي اویه دي ترتیب لاره دهغه حل لپاره اواره شي کوم چي روس او امریکایي غواړي په افغان ولس یي تحمیل کړي ددي لپاره هغه هم سخت وارخطا دي اوشدید تبلیغات کوي ،ان شاءالله(ج) به دا ټولي شیطني شنتوري او که خداي کول په افغانستان کي به دمجاهدینو په لاس اسلامي حکومت جوړیږي ، مشروط په دي چي مونږ دخداي (ج) په لاره کي جهاد ته ادامه ورکړو دستونځو اوکړاونو په وړاندي صابرو

دوحدت لپاره کوښښ وکړو او ولس مطمئن کړو چي مونږکه هم چي دکابل رژیم نسکور کړواو دمجاهدینو دحکومت کولو دوراورسیږي نوهغوي دملك داداري استعداد اوکفایت لري دآینده لپاره متین ثابت اساسات او مباني وضع کړو او دقرباني جذبه مو مره نشي تر هغه وخته پوري چي زمونږ سره دجهاد اراده وي اودقرباني جذبه، خداي (ج) زمونږ د فتحي داسلام دغلبي ذمه واردي انشاءالله هغه ورځ نږدي ده چي په افغانستان کي د مجاهدینو په لاس اسلامي حکومت قائم شي داسلام بیرغ اوچت شي او زمونږ مجاهدین پدي داړه اومطمئن شي چي دا دي زمونږ دهغوشهداؤ ارمان ترسره شوي چي غوښتل یي داسلام کلمه اوچته وگوري او دمجاهدینو په لاس اسلامي حکومت قائم وگوري دهغي ورځي درارسیدلو په امید

وآخر دعوانا ان الحمد الله رب العلمه

تبدیل نام

۵ – برادرسفرقل مسکونه ولایت جوزجان ولسوالي آقچه اسم خودرا به عبدالحفیظ تبدیل نموده ازدوستان مي طلبد تاوي را بنام عبدالحفیظ بشناسند .

۶ – برادرالله گل ولدجمعه گل مسکونه ولایت کندزولسوالي امام صاحب کارمند مطالعات آسیایي (سي ، اي ، اس) اسلام آباد نام خودرا به عبدالرحمن تبدیل نموده است ازدوستان تقاضا دارد تابعدازین برادرموصوف رابه اسم جدیدش بشناسند .

۷ – برادرامیرانگل ولدفقیرمحمد متعلم صنف دوازدهم لیسه سیدجمال الدین افغان اسم خودرا به محمد ادریس ولدفقیرمحمد وبرادرگل خان ولدحکیم خان متعلم صنف دوازدهم آن لیسه اسم خودرا به احمدطارق ولدحکیم خان تبدیل نموده اند ازدوستان آرزو نموده اند تابرادران رابه اسماي جدیدشان بشناسند

نبوي ارشاد

له حضرت عايشي رضي الله عنها څخه روايت دي ، هغه وايي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم وفرمايل .

رحم پداسي حال کي چي په عرش پوري ځوړند شوي وايي ،چاچي زه وصل کړم نوخداي دي هغه وصل کړي اوچاچي پري کړم نوخداي دي هغه پري کړي

متفق علية: مشکوٰة

برادر بادام گل به شهادت رسيد .

شهيد بادام گل ولد شهيد عبدالخالق ساکن خواجه مسافر ولسوالي پغمان ولايت کابل سرپرست گروپ ضابط محمد مالك که ازآغاز جهادمسلحانه به جهادمقدس شروع نموده بود ودرطول مدت جهاد خويش بسياري ازملحدين را رهسپارجهنم نموده بالاخره به تاريخ اول اسد سال جاري بعد ازهجده روز مقاومت دربرابررژيم مزدور به درجه شهادت نايل گرديد .

انالله وانااليه راجعون

مجاهد ورور نياز محمد په شهادت ورسيد

دنيازافغان کلي اوسيدونکي مجاهد ورور نيازمحمد دميرزاد محمدزوي په شهادت ورسيد .

انالله وان اليه راجعون

مجاهد ورورنيازمحمد چي په ١٣٤٢ کال دنيازافغان کلي په يوه ديندار کورني کي زيږيدلي خپل تعليمات ئي ترلسم ټولگي پوري سرته ورسول دهيرکم عمرخاوند وچي په جهادني لاس پوري کړاويه گن شمير عملياتونوکي يي ونده واخستله اوپه آخرکي دروان کال دتلي دمياشتي په ١٧ مه نيټه ديوې اسلام دښمنه بلي لخوا په شهادت ورسيد . روح دي ئي ښادوي

په ډيره خواشيني سره موخبرواخست چي دبغلان ولايت دنهرين ولسوالي

سفارت خانه امريکا هدف پرتاب نارنجك قرارگرفت

مانيلا - ٢٠ عقرب :

روزشنبه سفارتخانه امريکا درچيناتاون هدف پرتاب نارنجك هاقرارگرفت وساعات متعدد انفجارات بم درشهرمذکور ادامه داشت که درنتيجه ده نفر مجروح گرديد .

قوماندان عمومي ارتش ، نيروي مجهز (٢٥٠٠٠) نفري را به حالت آماده باش قرارداده وفرمان صادرنموده که درقرارگاه هاي خويش آماده باشند .

هيچ کس مسئوليت اين دوحادثه را بدوش نگرفته اما مسئولين اموراظهار نموده اند که گمان ميرودسربازان ناراضي درعقب عاملين قضيه قرارداشته باشند .

متالي شارژ اسخنگوي سفارتخانه امريکا گفته است يك مردناشناس ازبين موتر دونارنجك رابوسيله نارنجك اندازبطرف سفارتخانه آتش نمود اولي درعقب ساختمان سفارتخانه منفجرشد ودومي پيشروي سفارتخانه به زمين فرود آمد اماانفجاري صورت نگرفت .

په نيول شوي کشميرکي دمجاهدينو اوهندي پوځونو ترمنځ نښتي رواني دي

جمو - دلړم ٢٠ :

له نيول شوي کشمير نه په خبرونوکي ويل کيږي چي په دغه ځاي کي دهندي برغلگروپوځونو اوکشميري مجاهدينو ترمنځ په نښتو کي ٩ تنه وژل شويدي ، پدي کي دري تنه هندي پوځيان اوشپږنور ښاريان شامل دي همدارازدي نښتويه نتيجه کي اته تنه هندي پوځيان هم زخمي شويدي - دخبرله مخي دپاميوريه ښارکي مجاهدينو دعسکري نقليه وسيلو بويل الوزولي چي په هغي کي پوهندي عسکر مړ او دري ژوبل شويدي . همداراز دجمعي په ورځ دمجاهدينواوهندي پوځيانو ترمنځ په يوه نښته کي ديوي ښځي په شمول دوه هندي عسکر اودري ښاريان مړه اوشپږنور ټپيان شويدي خبرزياتوي چي کله چي مجاهدين پرپوځيانو بريد وکړي نو وحشي هندي پوځيان په وارخطايول په بيگناه ښاريانو بزي بيل کوي اوډزي بي .

چندرشيکر دهند دنوي صدراعظم په حيث وټاکل شو

نوي ډيلي :

په هندکي دځواکنيو سخت حکومتي بحران وروسته دجنتادل واکمن گوند نه بيل شوي بلي مشر چندرشيکر دهند دائم صدراعظم په حيث دوفاداري لوړه وکړه ، چند رشيکر سوسياليستي افکارلري اوپه ورستيو ورځو کي په هندکي دسختو ناآراميو په خلاف داحتجاج په توگه د وي پي سنگ له واکمن گوند نه بيل شو ، دتومړي له انتخابيو وروسته سم دلاسه هغه ديوي لعل دخيل نائب په توگه وټاکه ، ديوي لعل پخواد وي ، پي ، سنگ معاون هم وو خودمخالفتونو په وجه له دي وظيفي نه گوښه کړاي شو .

له انتخابيو وروسته صدراعظم وويل چي دي به په هيوادکي ترڅه لومړي آرامي راولي ، ولي سياسي کتونکي عقيده لري چي دده حکومت به ډير کمزوري اودکانگريس گوند گوواگي وي . کبداي شي ډير ژر له ستونزوسره مخامخ شي . په پارلمان کي تومړي بوازي پنځوس اصلي پلويان لري ، خودراجيوگاندي اواي ، کي ايدواني دگوند ونو په ملاتړ صدراعظمي ته رسيدلي دي .

تبديلي نام

برادرطوطي نيك زاد ولد گل دوالله مسکونه ولايت لوگر فعلاً دوا فروش درکمپ خراسان اسم خودرابه هدايت الله تبديل نموده است

ازاقارب ودوستان خويش آرزو مند است تاوي رابنام جديدش هدايت الله بشناسند .

دکويت داشغال په باب پوهګم ښته

په راتلونکي گڼه کي

درطول ماه عقرب يك جنرال و ١٦٠ تن مليشه رژيم ملحد درولايت لوگرازبين رفته اند

لوگر :

قرارگزارشات واصله ازولايت لوگر مجاهدين مومن آن ولايت توانسته اند درطول ماه جاري يك جنرال رژيم کابل رابا ١٦٠ تن مليشه ١٢ عراده تانك ووسائل نقليه ازبين ببرند ، درگزارشات آمده است که به تاريخ ٤ الي ٦ عقرب مجاهدين طي عمليات، يك عراده موتر هشت سلندره به آتش کشانيده شد و١٢ نفر به هلاکت رسيد. هم چنان دراثرانفجار ماين که ازطرف مجاهدين دردشت شکارقلعه صورت گرفت يك عراده تانك محاربوي تخريب و ١٠ نفر حاملين آن به هلاکت رسيدند

هکذا دراثرعمليات پيروزمند انه مجاهدين جبهه خندق که به تاريخ ٦ عقرب بالاي ولسوالي محمد آغه صورت گرفت يك جنرال رژيم کابل همرابا ١٧ نفر به هلاکت رسيده ويك جنرال ديگر شديداً مجروح گرديد به تاريخ ٨ الي دهم ماه عقرب نيز عمليات وامداخت هاي متواتر بالاي مواضع دشمن درمناطق اده به نو وقلعه ملاومبرزاخيل صورت گرفت درنتيجه ٩٣ نفر به هلاکت رسيده وچهارعراده تانك تخريب ويك دستگاه بي ام ١٣ دشمن شديداً خساره مند گرديده .

هم چنان دراثر عمليات موفقانه مجاهدين جبهه خندق ازتاريخ ١٢ الي ١٧ عقرب جمعاً ٢٣ نفر کشته ٢٥ نفر زخمي ودوعراده تانك ملحدين باسرنشينان آن ازبين رفت .

دروسي مزدورانو يو زغروال ټانک ويجاړ او يوموټر وسوځول شو

لوگر - دلړم - لسمه :

دلوگر ولايت باتوروتوزتونوموړي ولايت په بيلابيلو سيموکي دوحشي چپاولگرانو امنيتي ځانگي دخپلو درندو اوسپکو وسلو ترسختو بريدونو لاندي نيولي اوپه هغوي ئي دژوندي آخرني ورځي ترخي کړي په هغه ريوټ کي چي دنوموړي ولايت دجهاد دعمومي امارت څخه ترلاسه شوي ويل کيږي .

دروان کال دلړم دمياشتي په ١٠ مه نيټه ديوي خونړي نښتي په ترڅ کي دکمونست رژيم ٢٠ کسه مړه، ٨ کسه ټپيان، يو زغروال ټانك ويجاړاويوموټروسوځول شو همداراز دروان کال دتلي دمياشتي په ٨ مه نيټه دکمونست رژيم هوائي قواوو دکوه واغ جان ، پورك ، کنجك ، فارون خيلواو دادوخيلوکلي ترکلکي بمباري لاندي ونيول چي په نتيجه کې يوکوزنځاي اوپورځانه کوم ځاني ياما لي تاوان ندي رسيدلي .

نيوه بل خبرله مخي دروان کال دلړم دمياشتي په ٨ مه او ١٠ مه نيټه کمونستي قواوو ځيني سيمي د بي ام ١٤ دستگاه وو ترسختو بريدونو لاندي ونيوي چي په نتيجه کي دمامور سحرگل دگروپ يونومحالي مجاهد شاپور په شهادت ورسيد . اناالله وانااليه راجعون

په عکس کي دمومنومجاهدينو استقباليه ټولي ويني

دنيپال پاچاله خپلو اختياراتو نه لاس واخيست

کټمنډو : دلړم ٢٠ :

دنيپال پادشاه بريندرا په هيوادکي نوي اساسي قانون منظورکړ ، ددي قانون له مخي دپادشاه ټول پخواني اختيارات له منځه لاړل همداراز دراتلونکي کال په حمل کي به په نيپال کي گڼ گونديز انتخابات سرته رسي اوپيا به واك اکثريتي بلي ته سپارل کيږي ، بايد په يادولرو چي دپادشاه دغه دوه سوه کلنو اختياراتو ته هغه وخت خطرمتوجه شو چي دروان کال په سرکي ديموکراسي پلويانو دغه پرضد مظاهري پيل او ديوځيانو گوليو ته يي سينې سپرکړي اويه سلهاو قربانيان بي ورکړل .

په خبرکي زياته شوي دنيپال دکانگريس مشر گريشن مان سنگ دپادشاه ددي اعلان ستاينه کړي ويلي يي دي چي ددي قانون په عملي کولو به نيپال ديرمخنگ په لوزگاموته اوچت کړي . په خبرونوکي داهم ويل شوي چي دنيپال نوي رژيم به دبريتانيا په شان سمبوليك پادشاه اودوه مجلسه پارلمان ولري اوداتلونکي کال په حمل کي به حتماً انتخابات ترسره کيږي

نسخه چهارصد ساله قرآنکريم به شهادت رسيد

سرينگر(مسلم) ٢٠ عقرب :

نشريه کشمير تايمز مينگارد هنگاميکه کالج اسلاميه درمنطقه شاوال بخش شمالي شهرسرينگر به آتش کشيده شد خسارات وويراني بيش از حد به ساختمان ،اموال واسناد موجود در کالج مذکور واردگرديد.

علاوه برآن يك جلد نسخه قرآنکريم که درحدود چهارصدسال قبل بادست نوشته شده بود نيز شهيد گرديد .

گرچه دولت ميخواست مليشه هاي مسلمان رامتهم سازد اما عوامل وشواهدي که مبني برآن بتواند اين تهمت رابه مسلمانان وارد سازد دردست نداشت .

محمدالله " ناقد " معاون تعليم وتربيه حزب اسلامي افغانستان ومديرليسه سيدجمال الدين افغان درحال سخنراني درکنفرانس تربيتي

کنفرانس تعليمي وتربيتي درليسه سيدجمال الدين افغان دائرگرديد

گزارش گران : رحيم گل " منيب " ومحبوب الله محمديار

کنفرانس تعليمي وتربيتي ازطرف مديريت بخش ليليه ليسه سيدجمال الدين افغان به تاريخ ٢٠ر٨ر٦٩ درمقر آن ليسه دايرگرديد .

کنفرانس به اشتراك برادرمحمد الله " ناقد " معاون رياست تعليم وتربيه ومسئوولين ، استادان وشاگردان ليسه سيدجمال الدين افغان ومدرسه عالي شرعي امام اعظم (رح) باتلاوت آيات چند ازقرآن مجيد توسط برادر محمد امين يکي ازشاگردان آن ليسه افتتاح گرديد .

بعداً برادراستاد قاضي عبدالحفيظ يکي ازاستادان ليسه متذکره بيانات افتتاحي شان را ايراد نموده درارتباط با وضع تعليم وتربيه بيانات ارزنده ايرادنموده درقسمتي ازبيانيه شان گفت فرانسان بايد اول عقيده خودرا تثبيت کند يعني وقتيکه مادروس فرامي گيريم وتعليم مي آموزيم بايد درتمام اين حالات عقيده ماتسبت به خداوند ثابت باشد .

سپس برادر عبدالرحمن مدير ليسه سيدجمال الدين افغان ومولوي محمد شريف مدير مدرسه عالي شرعي امام اعظم (رح) استاد حبيب الله يکي از استادان اين ليسه بالنوبه بيانات ارزنده وعالمانه شان را به حضار ايراد نموده شاگردان رابه وظايف عمده واساسي آنها متوجه نمودند .

برادر عبدالرحمن مديرآن ليسه درقسمت بيانيه شان خطاب به شاگردان گفت : بايد به دروس شان کوشان باشيد علم وتربيه اسلامي را فراگيريد ، امروز درجنگ افغانستان برادران متعدد ماوشما به

(ص ٦)

اکي هيتو دجاپان شاهنشاهي تاج په سر کيښود

دجاپان دنوي شاهنشاه اکي هيتو په سرددوشنبي په ورځ دشاهنشاهي تاج کيښودل شو، په دغه مراسموکي دنړۍ د١٥٧ هيوادو مشرانو ،نمايندگانو اوسفيرانو گډون درلود .

په نظر کي وه چي دجاپان نوي شاهنشاه اکي هيتو دغه دبلار هيروهيتو له مړيني وروسته پروسږکال دشاهنشاهي تاج په سرکي کيښيږدي ، مگر دځينو معاذيرولـه امله دغه مراسم ځنډيدل . اکي هيتو دجاپان ١٢٥ شاهنشاه دي دنوموړي دتاجپوشي په مراسموکي تر دوه زره اوپنځوسو و زياتو ميلمنو گډون درلود . دجاپان هيوادپيوازيني هيوادي چي نشلمي پيړۍ په وروستي لسيزه کي هم دشاهنشاهي رژيم لري .

دتنظيم طلبه ديني له خوا په دوومدرسوکي انتخابات ترسره شول

درازسيدلي ريوټ سره سم څورومړي د مخه دمردان په قادريه دارالعلوم کي د تنظيم طلبه ديني لخوايوه غونډه جوړه شوي وه دغونډي په پاي کي دطلبه ؤ ترمنځ انتخابات ترسره اويه لاندي ډول اعلان شول :

١- وروريسيم الله دناظم په توگه

٢- ورور عبداللطيف دمعاون په توگه

٣- ورور عبدالرازق ددعوت اوتنظيم دمسئول په توگه

٤- ورور عبدالغفور دمالي مسئول په توگه

همداراز دلړم د مياشتي په څلورمه نيټه دمردان د تعليم القرآن رسحم کي يوه انتخاباتي غونډه جوړه شوه او دغونډي په پاي کي دطلبه ؤ ترمنځ انتخابات ترسره اويه لاندي ډول اعلان شول :

١- وروريمان الله دناظم په توگه

٢- ورور عبدالبصير دمعاون په توگه

٣- ورور محمدانور دمالي مسئول په توگه

٤- وروررحيم الله ددعوت اوتنظيم دمسئول په توگه

په دي ترتيب دانتخاباتو نتيجي داعلانولو سره سم غونډه پاي ته ورسيده .

تبديلي نام

١ - برادرقندآغا ولدعبدالجليل مسکونه قريه دولت شاهي ولسوالي بگرام ولايت پروان فعلاً متعلم درليسه سيدجمال الدين افغان اسم خودرا به بلال تبديل نموده است ازدوستان وخويشاوندان خويش آرزومنداست که وي رابه اسم جديدش بلال بشناسند .

٢- ورور عبدالقيم (عابد) دعبدالحميد زوي دلغمان ولايت دعليشنگ ولسوالي دشکرمان کلي اوسيدونکي فعلاً په دارالعلوم الجماعة الاسمية وتعمانية کي زده کوي خپل نوم په عبدالحميد حماد سره مبدل کړي ، له دوستانو څخه هيله کوي چي په نوي نوم سره يي وپيژني .

٣- برادرغلام حسين " پنجار " ماموردرآمريت ترانسپورت رياست مالي حزب اسلامي افغانستان تخلص خودرا به " حيدري " تبديل نموده است ازبرادران محترم وخويشاوندان خويش خواهشمند است که وي رابنام غلام حسن " حيدري " بشناسند .

٤- برادرهمراقل مسکونه ولايت جوزجان ولسوالي آقچه، فعلاً متعلم دراسلام آباد اسم خودرا به عبدالحميد تبديل نموده ازتمام دوستان تقاضا دارد تا بعدازين وي رابه اسم جديدش بشناسند .

(ص ٧)

شهادت

بيانگرعقايد وآرمان هاي حزب اسلامي افغانستان

موسس : انجنير حکمتيار

صاحب امتياز : حزب اسلامي افغانستان

ناشر : رياست ارشاد وفرهنگ

سال تاسيس : ١٣٥٧ هجري شمسي

تحت نظرهيئت تحرير

عمليات مجاهدين برپوسته هاي رژيم ملحد درشاهراه کابل - حيرتان

سمنگان :

مجاهدين مومن حوزه صهيب (رض) حزب اسلامي افغانستان درولسوالي خلم سمنگان طي عمليات چهارساعته جهادي خسارات فراوان جاني ومالي برمنسوبين نظامي رژيم واردنموده است .

طبق گزارشهاي واصله طي اين عمليات موفقانه که بتاريخ ٢ر٨ر٦٩ درساحه ولسوالي خلم برپوسته هاي شاهراه کابل - حيرتان انجام پذيرفت يکعراده تانك دشمن حريق و ١٢ تن ازملېشيا هلاك وچهارتن ديگر آن بشمول يك افسر برتبه تورني توسط مجاهدين دستگير گرديده اند .

طبق گزارش دوعراده موتر کاماز وچهارميل سلاح به غنيمت مجاهدين درآمده است . درجريان اين عمليات دونفر ازمجاهدين مومن ما زخمي گرديده است .

په خليج کي پراته پوځونه دي داسرائيلو په خلاف هم استعمال کړي شي

تهران - نواي وقت

دايران جمهوررئيس هاشمي رفسنجاني ويلي دوضعي نه داسي معلوميږي چي دخليج ستونزه په سوله ئيزي حل کيداي ، ځکه تراوسه نه عراق دپسه نيت کوم پيشنهاد وړاندي کړي اونه هم هغو هيوادونو چي په خليج کي يي لښکري ځاي په ځاي کړيدي . هغه وويل چي دغه لښکري بايد داسرائيلو پرخلاف هم استعمال کړي شي ترڅو ثابته کړي چي رشتيا هم لښکري ديرغل پرخلاف ځاي په ځاي سوبدي څکه چه له نوي څو اعراق په کويټ حمله کړي هغه بي دخپل خاوري جزگيلي سوله بل پلوه اسرائيلو هم فلسطينيان له خپلي خاوري ايستلي اودهغوي سيمي بي قبضه کړيدي

دبل خبرله مخي دعراق دبهرنيو چارو وزير طارق عزيز خليج ته د بهرنيو زياتو پوځونو په ورتلو انتقاد کړي ويلي يي دي چي دغه ستونزه دپوځونو په زياتولو نه حل کيږي بلکي بکاردي چي دغه مسئله په سوله ايزاو سياسي ډول حل کړي شي

دخليج ستونزه اوراخيستو ته ډيره نږدي شويده

واشنگټن :

دخليج په سيمه کي لانجه ورځ په ورځ سختيږي ، دامريکا جمهوررئيس عراق ته اخطار ورکړي چي په نږدي وخت کي به دکويت دآزادي لپاره په وسله وال اقدام لاس پوري کړي ، ددي مقصد لپاره به امريکا يو لك نور پوځونه هم خليج ته واستوي تر څو ملته دعراق په خلاف جنگي عمليات ژر سرته ورسولي شي

سره له خبريالانو سره په يوه مرکه کي ويل چي دغه پوځونه دسعودي عربستان دسوړو عربي او لوبديزو هيوادونو خوشه ملته ليږل کيږي دعسکرو په ليږلو په خليج کي دامريکا ديوځونو شمير دري سوه زرو ته رسيږي . په دغه پوځونو کي به په حرمني کي ځاي په ځاي شوي امريکايي پوځيان اودري الونکي وړونکي کښتي اويوه جنگي کښتي اويوه پياده فرقه شامل وي .

دبل خبرله مخي دسعودي باچا فهد هم ويلي چي هغه به دکويټ له مکملي خپلواکي نه په راکم شي راضي نه شي ، بلکي زياته کړي يي ده چي له وتووروسته بايد عراق دانضمين ورکړي چي بيابه کويټ حمله نه کوي . له بلي خوا عراق ځان ديوره جگړي لپاره تياروي اوپه دي ده چي دغه ستونزه اوروا خلي

مذاکرات وزراي خارجه سعودي ،مصر وسوريه خاتمه يافت

دمشق ٢٠ عقرب :

وزراي خارجه سعودي ، مصر وسوريه بعدازمذاکرات دو روزه درمورد بحران خليج دمشق رابه قصد مديتراتيه جهت ديدار باحافظ اسد رئيس جمهورسوريه ترك نمودند .

آژانس خبرگزاري سينا گزارش دادکه ايشان قبل ازعزيمت ، موافقه نمودند که اين جريان راتعقيب نموده ومذاکرات آينده را در قاهره برگزار نمايند .

مقامات ديپلوماتيك معتقد اند که ايشان تلاش مينمايند تا ازطريق ارتباطات ديپلوماتيکي وسياسي عراق را وادار به عقب نشيني عساکرش ازکويت نمايند .

روزشنبه وزراي خارجه مذکوربه صوب بندر مديترانه حرکت نمودند تاباحافظ اسد درمورد انکشافات جديد اوضاع بحث نموده وازمذاکرات خويش وي را آگاه سازند

وزيرخارجه مصر حين برگشت به کشورش گفت وي نامهٔ ازحافظ اسد به حسني مبارك باخود دارد . وي افزود اگر عراق نيروهايش راازکويت خارج نمايد منطقه را از جنگ ويران کن نجات ميدهد .

مسافرين وخدمه طياره ربوده

دونفر جوان برمائي ، بعد ازظهر روزشنبه طياره خط هوايي تايلند را که عازم رنگون بود با اعمال فشار درکلکته به زمين نشاندند که بعداز رهائي مسافرين وخدمه درنيمه شب تسليم شدند .

منبع مذکور علاوه نموده که خط هوائي تايلند طياره مخصوصي راجهت انتقال مسافرين وخدمه طياره ربوده شده به کلکته فرستاد وطياره مذکور درحال برگشت بطرف رنگون ميباشد

گفته مي شود که ربايندگان بم هاي اصلي نداشته ودوکلچه صابون که ازآن لين هاي برقي دورداده بودند به نام نارنجك وانمودساخته بود

پوسټ بکس (١٠٢٨)

يونيورسټي ټاون پشاور

تلفن نمبر(٦٣٧٨٩)

30224 پشاور